آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۶/۰۳

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۸۳مه برخه

د لنډیو د دې برخې له پاره دا لنډۍ غوره شوې دي:

**د نيموشپومرگونه ډېرشول**
**جانان ته وايه چې وختي کور ته راځينه**

**د جانان غمه نور مې پرېږده**
**شپه نيمايي شوه، مزدورۍ ته سبا ځمه**

**د جنازې بازو يې نيسئ**
**ارمان د لوی افغانستان خاورو ته وړينه**

**د بېوسۍ حد ته خو گورې**
**زړه مې هم نه دی، خو په زور مې غړوينه**

**د اوبوگوټ مې نهتېرېږي**
**پر زړه مې ستا د نامه ليک دی وران به شينه**

**د بېوسۍ اخريحد دی**
**له خدای راکړي لالي سترگې اړومه**

**د شنو لوټونو زور ته گوره**
**زاړه سپينږيري ته هم پيغله کښنبوينه**

**د مرگ او ژوند احوال دې نهشته**
**په خوب کې راشه، راته ووايه حالونه**

**د خپل وطن ترغرونو تېره**
**زړه ته راتېره ياره، نه راځيخوبونه**

**د يارگنځل، په کل ويشتل دی**
**بد يې خندل وي، چې له بل سره يی کوينه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د شپې خوبونو کې رانهشي
په ويښه ژوند بيا راته خوند نهرکوينه

په هېرېدو کې دې ناکام شوم
هرهورځ نوې تجربه په زړه کومه

پاس په اسمان کښې ستورې ښکاري
جينې لټون په کښې د خوږ اشنا کوينه

په لاعلاجهرنځ اختهشي
زه د ژوندونه له خوږ تاوستلېيمه

په نيمه شپه بـاران وريـږي
د څاڅکو شور دی، زړه مې ښکته پورته ځينه

په سعودي عرب دې اور شه
زه دې په سره پالنګ يوازې پرېښودمه

پرتنور ټوله ورغوړېږې
د اوربلڅوکې به دې اور وسوځوينه

په زړه کمزورې دې کړم غمه
په نه خبره مې ژړا ژړا خولې له راځينه

په پټو، پټو لارو راشه
دا پېښتانه دي، بيا به سلکيسې کوينه

بېګاه مې ښکلىخوب ليدلى
جانان زما په رسمال سر ترلىونه

بانه دې ورو جګکړه شيرينې
ما ته دې سم د زړه پرسر ټومبلي دينه

زما به زړه له ځانه توركړې
جانانه مهكوه بدرنګ ـ بدرنګ خويونه

زما د زړه له تله خوښ يې
دا ګډېوډې کيسې څوک درته کوينه

زه در نږدې وم، ته رانغلې
خلک په يار پسې ملکونه لټوينه

زه مخامخ خلکو ته خاندم
دننه زړه کې مې د غم سکروټې دينه

راته مالوم سوې، خپل مې نهکړې
برباد مې لاړل د ټول عمرخدمتونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

راشه چې غيږ کې دې ويده کړم
تا خو به کړي وي يوازې ډېرخوبونه

خال مې د کونډې پر مخ ولېد
پېغلې دې ورارې شې چې نه ږدي شنه‌خالونه

خدای به مو بيا سره يوځای کړي
خوب مې ليده، ګلان مې دوه ټومبلې‌دينه

جانانه چيرته يې لاس راکړه
د سمندر څپې مې لرې درنه وړينه

جانانه سپينې‌جامې مه‌کړه
پرون ملا پسې جومات ته تللی‌ومه

سر په رسمال مه‌ټړه ياره
ستا به عادت، زما به زاره چولې‌وينه

سترګې دې بيا رابنکاره نه‌کړې
پرېبږده چې مړ دې د ليدو په تمه شمه

ستا له ديدن نه مې روژه ده
د صبرېدو تراويح هره‌ورځ کومه

ښه‌ده چې ستا دوران خو تېرشو
هرمازديګر به سترګې سرې کور ته راتلمه

له بې‌خوبۍ مې سرخوږېږي
د جانان غم مې د شپې خوب ته نه‌پرېږدينه

له مسافرو سره څه‌وي
د وطن‌ياد، د جانان‌غم، پري کارونه

لاليه شړقنده‌باران دی
پر تا دې اوري، پرما ونيسه لاسونه

اختر د روغو زړونو کار دی
زموږه زړونه بې‌وسۍ چولي‌دينه

ارمان به هلته زما درشي
چې سورپالنګ درته يوازې پاتې‌شينه

اختر به ستا وي چې ماشوم يې
ما تـه پـراتـه دي په دَلو ـ دَلو غـمـونـه

اوس به له بل‌چا سره ناست وي
ورته به وايي چې مێن دربانډې يمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**يو دوطن حالات خراب دي**
**بل مې د مينې‌کيسې ګډې‌وډې دينه**

**ورشه د يار خبر دې واخله**
**پر مځکه پروت دی، ترخولې وينې غورځوينه**

**ورځه، ورځه پرغرونو واوړې**
**موږ د مغرورو خلکو نه‌کړو ارمانونه**

**هيڅ مې په وس کې پوره نه‌دي**
**له ډکو سترګو به دې سترګې واړومه**

**هغه ده لاړه پناه کېږي**
**ما سره غم دی، د چا کور به ورانوينه**

**مازديګر مه‌غواړه، ما غواړه**
**مازديګر تل وي او زه کله ـ کله يمه**

**مسافرۍ کې ناروغ مه‌شې**
**مور به دې نه‌وي، ځار به څوک درته کوينه**

**مسافر ټول کلي ته راغلل**
**يا يار خپه دی، يا له کسته نه‌راځينه**

**چم کې سره سيلۍ چلېږي**
**ځوانان مړه‌شوي، پېغلې کونډې ناستې‌دينه**

**غمه لو بلې‌خوا ته لاړشه**
**په شل‌کلنه‌ځواني چا ژړلې‌دينه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ